# (Figurative expressions in the poetic works of Rahman Baba)
# د رحمان بابا په کلام کښې علِم بیان

**Farooq Anjum**★

**ABSTRACT**

Rehman Baba is considered as the most famous poet of Pashto language. Despite of his poetic themes, his diction and expressions with the lingual reference are very important. He is popular among all due to his artistic abilities and lingual aspects .His language is not only eloquent but also strenuous. It has a fluency and also spontaneous. Various figurative expressions are found in his poetry. He deals with the poetic diction so skillfully that it values the quality and importance of linguistics.The author of this paper have analysed the style, diction and figurative expressions in the poetic works of Rahman Baba.

علم بیان یو مستقل علم دے او د علم بلاغت یو مهم شاخ دے۔ په کلام کښې د فصاحت او بلاغت د پاره پکارولے شي۔ د دې د لساني اهمیت د جائزې اخستو نه وړاندې د علم بیان د تعریفونو تعین کوؤ۔

بیان د عربۍ ژبې لفظ دے او دا د یو ادبي اصطلاح په توګه مروج دے ۔ د دې لفظ لغوي مفهوم په مختلفو لغاتو کښې څه دا رنګه ښودلے شوے دے۔

د " فرهنګ اصطلاحات علوم ادبي " مطابق:

"ظاہر کرنا، کھول کر بات کرنا۔ علوم بلاغت میں سے ایک علم جس میں تشبیہہ، استعارہ، مجاز اور کنایہ وغیرہ سے بحث کی جاتی ہے"۔(۱)

ترجمه: څرګندول، په ډاګه خبره کول، د بلاغت په علومو کښې یو علم دے چې پکښې تشبیهه، استعارې، مجاز او کنایې وغېره سره بحث کېږي

د نور اللغات ترجمه:

بیان، (ع۔ فصاحت، زبان آوری، ظاھر) مذکر، قول، مقولہ، تقریر، گفتگو، اہل مقدمہ یا

★ Lecturer, NUML, Islambab

گواہوں کا اظہار، شہادت، تفصیل، تفسیر، باب، مضمون، فصل، مقدمہ، معاملہ، ذکر، کیفیت، حالت جسے بیان کرکے رونا، رپورٹ، جز، اطلاع، وہ علم جس میں تشبیہہ، مجاز، استعارہ، کنایہ وغیرہ کی مدد سے ایک معنی کو کئی طریق سے ادا کرتے ہیں۔(۲)

ترجمه: بیان، (ع، فصاحت، زبان آوري، څرګند) مذکر، قول، مقوله، تقریر، خبري، اهل مقدمه یا د ګواهانو اظهار، شهادت، تفصیل، تفسیر، باب، مضمون، فصل، مقدمه، معامله، ذکر، کیفیت، حالت بیانولو سره ژړېدل، راپور، برخه، اطلاع، هغه علم چې پکښې تشبیه، مجاز، اشتعارې، کنایې وغېره په مرسته یو معنیٰ په زیاتو طریقو سره ادا کېږي.

**د فرهنګ آصفیه مطابق:**

بیان: ع۔ اسم مذکر، صاف بولنا، سخن روشن، واضح، آشکارا، تقریر، گفتگو، اظہار، شہادت، تفصیل، تفسیر، بکھان، ہجو، نندا، باب، مضمون، فصل، مقدمہ، معاملہ، ذکر، کیفیت، حالت جسے بیان کرکے رونا، وہ علم جس میں تشبیہہ، مجاز، استعارہ، کنایہ وغیرہ کی مدد سے ایک معنی کو کئی طریق سے ادا کرسکیں۔(۳)

ترجمه: بیان: ع، اسم مذکر، پاکې خبرې کول، سخن روښن، څرګند، ښکاره، تقریر، خبرې ،څرګندونه، شهادت، تفصیل، تفسیر، بکهان، هجو، نندا، باب، مضمون، فصل، مقدمه، معامله، ذکر، کیفیت، حالت بیانولو سره ژړېدل، هغه علم چې پکښې تشبیهه، مجاز، استعارې، کنایې وغیره په مدد سره یوه معنٰې په یو شمېر طریقو ادا کړے شې.

په جامع اللغات کښې په دې بابله لیک دي:

بیان: ع۔ مذکر۔ گفتگو، تقریر، قول، مقولہ، بات، تفسیر، تشریح، تفصیل، بیاکھیاں، گواہوں اور اہل مقدمہ کا اظہار شہادت، گواہی، خبر، اطلاع، رپورٹ، کیفیت، حالت، تذکرہ، ذکر، مقدمہ، معاملہ، مضمون، فصل، وضاحت، صفائی، توضیح، لیکچر، وعظ، تقریر، بین، واویلا۔ وہ علم جس میں تشبیہہ، استعارے وغیرہ کے ذریعہ ایک بات کو کئی طریقوں سے ظاہر کرتے ہیں یہ علم بلاغت کی ایک شاخ ہے۔(۴)

ترجمه: بیان: ع. مذکر. خبرې، تقریر، قول، مقوله، خبره، تفسیر، تشریح، تفصیل، بیاکهیاں، ګواهان او د اهل مقدمه د شهادت څرګندونه، ګواهی، خبر، اطلاع، راپور کیفیت، حالت، تذکره، ذکر، مقدمه، معامله، مضمون، فصل ، وضاحت، صفائی، توضیح، لیکچر، وعظ، تقریر، وېر، واویلا. هغه علم چې پکښې تشبیهه استعارې وغیره

د لارې يوه خبره په زياتو طريقو سره څرګندولے شي دا د علم بلاغت يوه څانګه ده.

لفظ بيان يوه داسې ادبي اصطلاح ده چې د تشبيه، استعارې، کناېې، او مجاز مرسل د بحثونو احاطه کوي. مونږ وئيلے شو چې علم بيان د داسې قواعدو مجموعه ده چې د هغې واقفيت سره يوه معنیٰ د مختلف دلالتونو په بنياد په مختلف رنګه طريقو او پيرايو کښې داسې بيانيدے شي چې هغه د مقتضائے حال د دائرې دننه معنیٰ په مختلفو شکلونو کښې د بيانولو صلاحيت پيدا کوي. يعني علم بيان د مقتضائے حال مطابق بيان او د معنو په مختلفو طريقو د پکار راوستو چل او د دې سره سره په کلام کښې د رنګينۍ او د ښائست د جوړښت طريقې مونږ ته په ګوته کوي.

د اردو او نورو ژبو د بلاغت پوهانو د علم بيان په حقله هم هغه تعريف ځانته د نمونې په توګه مخے ته ايښے دے کوم چې د عربۍ او فارسۍ ژبې د بلاغت پوهانو په نظر کښې وو.

امام بخش صهبائي" د بيان" تعريف په دې الفاظو کښې کوي:

"علم بيان چند قاعدوں کا نام ہے کہ ان کو اگر اسی طرح سے یاد کریں کہ وہ سب ذہن میں حاضر رہیں تو ایک معنی کو کئی طریق سے ادا کر سکتے ہیں اور وہ طریق مختلف ہوتے ہیں۔ بعض ان میں سے اس معنی پر اس طرح سے دلالت کرتا ہے کہ اس سے وہ معنی صاف سمجھے جاتے ہیں اور بعض سے وہ معنی صاف صاف اور واضح نہیں سمجھے جاتے بلکہ بعد فکر اور تامل کے سمجھ میں آتے ہیں"۔(۵)

ترجمه: " علم بيان د يو څو قاعدو نامه ده که چرې دا داسې ياد کړے شي چې هغه هر څه په ذهن کښې جاضر وي نو يوه معنې په يو شمېر طريقو ادا کولې کېدې شي او هغه طريقې مختلفې وي. ځينې په دې کښې په هغه منعو داسې دلالت کوي چې ورسره په هغه معنو سم پوهېدے شي او په ځينو هغه معنې صفا صفا او واضح پوهه کښې نه راځي بلکې پس د فکر او تامل نه پوهې ته راتللے شي.

ديبي پرشاد سحر د "بيان" تعريف څه دا ډول کوي:

"علم بیان وہ ہے جس کو مسخر رکھنے سے ایک معنی کو کئی طریق سے لکھ سکیں کہ ان میں کوئی طریق معنی مطلوب پر دلالت واضح رکھتا ہو اور کوئی واضح تر"۔(۶)

ترجمه: " علم بيان هغه دے کوم چې مسخر ساتلو سره يوه منعې په ګڼ شمېر طريقو ليکلے

کېدے شي چې ځينې طريقې په مطلوبه معنې دلالت واضح لري او ځينې واضح تره.

عابد علی عابد د بيان تر څه حده د نوي تعريف د متعين کولو هڅه کړې ده هغه ليکي چې:

"علم بیان وہ علم ہے جو مجاز، تشبیہہ، استعارہ، مجاز مرسل، کنایہ، سے اس طرح بحث کرتا ہے کہ اس پر حاوی ہونے کے بعد فن کار، انشاء پرداز، یا خطیب اپنے مفہوم کے ابلاغ تام میں کامیاب ہو سکے"۔(۷)

ترجمه: "علم بيان هغه علم دے کوم چې مجاز ، تشبيهه، استعارې، مجاز مرسل، کنايې، سره داسې بحث کوي چې پرې حاوي کېدو سره فنکار، انشاء پرداز، يا خطيب خپل مفهوم رسولو کښې کامياب شي.

سيد عابدعلي عابد، د متقدمينو بيان شوي تعريفونو په تفصيل سره انتقادي جائزه اخستې ده. او بيا د هغې نه پس ئې د علم بيان دا پورته ذکر شوے تعريف وړاندے کړے دے. او دغه شان د متقدمينو د پيش کړے شوو نظرياتو د ځنو اړخو باندې د بحث نه ئې دا نتيجه راويستې ده چې په علم بيان باندې د حاوي کېدو نه بغير تخليق کار ابلاغ تام کښې کاميابېدے نشي. خو د عابد علي عابد دا تعريف هم نيمګړے لګي ځکه چې هغه د تعريف کولو په ځائې د "علم بيان" منصب بيان کړے دے چې هغه متقدمين د وړاندے نه مني چې علم بيان په نثر او شاعرۍ دواړو کښې جمالياتي قدرونه په وجود کښې راولي. دې سره سره معني په مختلفو پيرايو او طريقو سره په ادا کولو کښې مرسته کوي. په دې کښې هيڅ شک نشته چې د متقدمينو پورته ذکر کړے شوے رائے په دې لحاظ سره د قدر وړ دي چې هغوئ په خپلو خپلو تعريفونو کښې د "علم بيان" په مکمله توګه وضاحت کړے دے او دا ئې وئيلي دي چې علم بيان د يو داسې صلاحيت نوم دے چې په شعر و ادب کښې د معنیٰ مختلف اړخونه په ګوته کوي. که مونږ دا ووايو چې " بيان " داسې علم ته وائي چې تخليق کار له په کلام کښې د موزونو الفاظو په استعمال او د مطلب څرګندولو مختلف اسلوب پيدا کولو کښې مدد ورکوي او د دۀ د بيان انداز اثرناکه او زړه راښکونکے جوړوي نو دا به زياته مناسبه وي.

مشتاق مجروح يوسفزے په "زرکاڼے" نومې کتاب کښې د بيان تعريف کوي او بيا د خپلې خبرې وضاحت په ډېر ساده ټکو کښې کوي. ليکي چې:

" هغه قواعد او طريقې د کومو په ذريعه چې يو انسان د خپل مطلب اظهار

پہ زړہ پورې، خوندور او اثر کونکي انداز کښې وړاندې کولے شي هغې تہ علم بیان وائي۔ د بیان لغوي معني څرګندول دہ او پہ ادبي اصطلاځ کښې هغہ خبرې تہ وئیلے شي د کومې پہ ذریعہ چې شاعر، ادیب او نقاد د خپل مطلب څرګندولو د پارہ د ښو الفاظو انتخاب کوي۔ انسان د یوې خبرې یا د یو مطلب د څرګندولو د پارہ لفظونہ پکار راولي او د لفظونو پہ ذریعہ خپل مطلب بل تہ څرګندوي۔ د لفظونو مجموعې تہ کلام وئیلے شي۔ لفظونہ پہ دوہ قسمہ دي:

۱۔ هغہ لفظونہ کوم چې پہ لغوي معنو کښې استعمالیږي۔

۲۔ هغہ لفظونہ کوم چې پہ مجازي معنو کښې استعمالیږي۔

پہ علم بیان کښې هم دا مجازي معني پکار راوستے شي څکہ چې د لفظونو مجازي استعمال پہ مفهوم کښې کمے زیاتے راولي۔ د دې برعکس د حقیقي معنو پہ استعمال سرہ پہ مفهوم کښې هیڅ فرق نہ راځي۔ کہ څوک د سر ویښتو تہ ویښتۀ ، زلفې یا ګیسو ووائي نو خبرہ بہ هم هغہ یوہ وي ولې کہ څوک ښاماران یا سنبل ووائي نو پہ دې کښي بہ یو خوند پیدا شي کوم چې د ویونکي مقصود وي۔ د لفظونو دا مجازي استعمال د علم بیان موضوع دہ"۔ (۸)

پہ علم بیان کښې هم دا مجازي معني پکار راوستے شي څکہ چې د لفظونو مجازي استعمال پہ مفهوم کښې کمے زیاتے راولي۔ د دې برعکس د حقیقي معنو پہ استعمال سرہ پہ مفهوم کښې هیڅ فرق نہ راځي۔ کہ څوک د سر ویښتو تہ ویښتۀ ، زلفې یا ګیسو ووائي نو خبرہ بہ هم هغہ یوہ وي ولې کہ څوک ښاماران یا سنبل ووائي نو پہ دې کښي بہ یو خوند پیدا شي کوم چې د ویونکي مقصود وي۔ د لفظونو دا مجازي استعمال د علم بیان موضوع دہ"۔

سید تسنیم الحق کاکاخیل د علم بیان پہ حقلہ لیکي:

" بیان پہ لغت کښې څرګندولو تہ ویلے شي او پہ اصطلاح کښې " علم بیان " هغہ علم دے د کوم پہ ذریعہ چې انسان د خپل زړہ مطلب پہ مختلفو طریقو څرګندولے شي"۔(۹)

کلام زړه راښکونکے او ښائسته جوړول او په دې کښې د بلاغت پیدا کول یو لوئې هنر دے او دا د هغه چا په برخه رسیدے شي ځوک چې د شاعرۍ په هنرونو یعني شعري محاسنو پوره عبور لري او بیا ورسره په فطري توګه د داسې تخیل مالک وي چې خپلې تجربې او مشاهدې د خپل علم په اساس د شاعرۍ په فن کښې داسې رانغاړلے شي چې په کلام کښې پیچیدګي هم پیدا نه شي او د دې فنونو د پکارولو باوجود پکښې رواني، سادګي، برقراره پاتے شي۔ نو بیا داسې شاعر او فنکار عظیم یادیږي او د اولس په زړونو راج کوي۔ ډاکټر اقبال نسیم خټک د یو شاعر عظمت د شعري محاسنو معیار ګڼي ، هغه لیکي:

" د یو شاعر د شاعرانه عظمت اندازه د دې خبرې نه لګي چې د هغه په کلام کښې د شعري محاسنو معیار څه دے۔ د دغه محاسنو برمحل او درست استعمال په کلام کښې جدت او ژوند پیدا کوي۔ که په یو شعر کښې د الفاظو بندش درست او په ترتیب سره وي او معنی او خیال پکښې هم نوے وي نو دغه شعر د اوریدونکو یا لوستونکو زړونو ته پریوځي او که د الفاظو بندش ئې بې ترتیبه او خیال پکښې بازاري وه نو دغه قسم شعر د شاعري مقام شرموي"۔ (۱۰)

پروفیسر عابد علي عابد د علم بیان د اهمیت په حقله لیکي:

*" شعر کی تاثیر کا انحصار لفظوں کے برجستہ اور موزوں استعمال پر منحصر ہے لیکن شعر کی روح چونکہ رمز وابہام کے طلسم میں پوشیدہ ہوتی ہے اس لیے لفظوں کے معنی میں تشبیہ، استعارہ اور کنایہ سے وسعت پیدا کی جاتی ہے"۔(۱۱)*

ترجمه: " د شعر د تاثیر انحصار د لفظونو په برجسته او موزو استعمال منحصر دے خو د شعر روح چونکه د رمز او ابهام په طلسم کښې پټ وي د دې لپاره د لفظونو معنې کښې تشبیه، استعارې او کنایې څخه پراختیا پیدا کولې شي "

په شعر کښې چې الفاظ څومره شاعرانه او د حالاتو تر مخه مناسب وي هغه هومره په هغې کښې اثر، ښکلا پیدا او فصاحت پیدا کیږي ځکه چې د فصاحت رشته د الفاظو سره زیاته او د معنی سره کمه وي او دا خوبي په شعر کښې د علم بیان د اجزاؤ د لارې په آسانه راوستے شي۔

سید تسنیم الحق کاکاخیل د علم بیان د ضرورت او اهمیت په بابله وائي چې:

" په دې هر څوک پوهېږي چې کومه خبره د مخاطب د حال سره مناسب وکړے شي هغه په زړه ښۀ اثر کوي او دا هم هر چاته معلومه ده چې کومه خبره په نوي رنګ ، نوي خيال، او مختلفو طريقو باندې اوشي هغه د مخاطب په ذهن کښې ښه کښيني۔ خو د کوم حال سره څنګه خبره مناسبه ده او کومه خبره په کوم کوم رنګ کښې کيدے شي دا معلومول ګران کار دے۔ په دې وجه د يو داسې علم ضرورت پيښ شو چې د هغې په ذريعه دا معلومه کړے شي چې د مخاطب سره په کوم وخت او کوم حالت کښې کوم قسم او په کوم طرز خبرے کول زيات مناسب دي ، کوم علم چې مونږ ته دا چل ښئ هغې ته علم معاني او بيان وئيلې شي او علم بديع په دې دواړو کښې زياتي ښائست او صفت پيدا کوي"۔ (۱۲)

که مونږ د رحمان بابا شاعري په دې نظر وګورو نو په هغې کښې د علم بيان ټول صنعتونه ښکاري۔ بابا د کلام په هنرونو پوره قدرت لري۔ که اشعار ئې د پندونو او نصيحتونو نه ډک دي، اجتماعي او اخلاقي اړخونه ئې قوي دي نو د ټولو نه لوئې صفت ئې دا هم دے چې شعر ئې د ادب په ټولو فنونو آراسته دے او په ادبي لحاظ موزون دے۔ د رحمان بابا د ادبي او شعري هنرونو په زړه راښکونکي استعمال او بيا د هغه د تخيل کمال شعر له داسې ښکلا ورکړې ده چې د خاص او عام زړونه پرې سکون مومي۔ د رحمان بابا د دې فن ستائينه محمدا جان حقپال په دې ټکو کوي:

" که په يو وينا (نظم و نثر) کښې ادبي فنون (بديع، بيان ، معاني، قافيه او عروض) وَنه کارول شي هيڅکله د شعر او ادب مقام نه شي خپلولې۔ همدغه فنون دي چې د وينا په اتام کښې د مالکې حيثيت لري که دا نه وي نو شعر او ادب به ډير پيکه او بې خونده وي۔ البته رحمان بابا په خپل کلام کښې ادبي فنون په داسې توګه کارولي چې له سره ورته د چا خيال هم نه وي او دا هغه صفت دے چې د نړۍ ډير لږو اديبانو او شاعرانو ته ورپه برخه شوې دي ـ د فنونو نقادان وائې چې ډير ښه او غوره فن او هنر هماغه دي چې فن او هنر د فن او هنر له تصنع نه آزادوي ، په يقين سره وئيلې شو چې د رحمان بابا فن او هنر له تصنع نه بيخي پاک او سپيڅلې دې"۔(۱۳)

د رحمان بابا په دیوان کښې زیاتره غزلې دي او غزل داسې یو نازک مزاج لري چې شعري فنون پکښې راوستل او بیا د دې باوجود سادګي او رواني پکښې په ځائې ساتل د هر چار د وس خبره نه ده ځکه چې د دې نه بغیر د غزل خوند پیکه پیکه لګي- خو رحمان بابا په دې ټولو اړخو ډیر قادر دے د دې وجه محمد اجان حقپال څه دا ډول بیانوي:

"د رحمان بابا د اشعارو ډیره برخه غزلیات دي او دا هم څرګنده ده چې غزل داسې باریک او نازک دې چې د ادبي فنونو له استعمال نه پرته به ډیر بې خونده او بدرنګه وي خو د فنونو استعمال پکښې هم پوره استادي غواړي، په تیره بیا په غزل کښې د تصوف او عرفان، پند او حکمت ، لوړ او سپیڅلي اخلاق او داسې نور بیانول ، البته دهر چا کار نه دې- رحمان بابا ته خو ځکه آسان شوې دي چې استعارئې د ادبي فنونو (بیان، معاني، قافیي، او نورو) په ترکیب سره الهامي دې"- (۱۴)

په دې حقله حنیف خلیل د رحمان بابا د کلیات په مقدمه کښې لیکي:

"رحمان بابا سره معنی او مقصد هم سپیڅلې دې خو شعري هیئت یې هم ډیر حسین ورکړے دے او دغه شان یې د صورت او معنویت د حسین امتزاج نه د خپل شعر په حسن افاقیت کښې اضافه کړي ده- د شعري پیکر د ښکلا د پاره د پښتو پخوانو شاعرانو د صنائع بدایع او بیان اډانه ډیره اخستي ده او د هغه وخت د مزاج او ماحول مطابق د رحمان بابا شاعرۍ کښې هم دغه رنګونه شته خو د رحمان بابا نورو شاعرانو سره فرق دا دے چې د کلام د جاج نه پس داسې معلومیږي چې نورو په ډیر کوشش ، مطالعه او دماغ سوزۍ په خپل شعر کښې بیلا بیل صنعتونه ځائې کړي دي خو د رحمان بابا په شاعرۍ کښې دغه صنعتونه هم ډیر په بې ساخته توګه راغلي دي او هم دغه د صنعتونو او تشبیهاتو ، استعاراتو بې ساخته استعمال د دۀ د شاعرۍ صوري اړخ ته ځلا او ښکلا بخښلې ده"- (۱۵)

د رحمان بابا کلام د هر رنګه شاعرانه صنعتونو او محاسناتو نه ډک دے او په دې حواله په پښتو ادب کښې د دې ثاني په ګوتو نه راځي- د اوچت خیال، اعلیٰ تصور سره سره د هغه په کلام کښې دومره باریکۍ او رنګینۍ دي چې هر لوستونکې ترې ډیره په آسانه

خوندونه اخستے شي۔ ځکه چې رحمان بابا د شاعرۍ دا هنرونه په دومره استاذۍ سره په خپل کلام کښې راغونډ کړي دي چې سادګي، سلاست او رواني پکښې قائمه ده او دې کښې پيچيدګي بيخي نه ښکاري۔ د دې نه د رحمان بابا د فن د لوړ معيار اندازه لګي چې په هر چا اثر کوي۔د رحمان بابا اشعار د علم بيان د ارکانو يوه بې مثاله خزانه ده۔ په دې خزانه کښې هر رنګه ملغلرے موندے شي۔ دلته ترې د مثال په توګه څه اشعار نقل کوؤ۔

تشبيه:

دا د علم بيان يو مهم رکن دے۔ په کلام کښې د مزې او خوند پيدا کولو او لوستونکے په خپلې مدعا او مقصد په آسانه پوهولو د پاره يو شے د څه خاص صفت په وجه د بل شي په شان ښکاره کولے شي۔دا رنګه اظهار ته تشبيه وئيلے شي۔

مشتاق مجروح يوسفزے د تشبيه په باب څه دا رنګه نظر لري:

"د تشبيه لغوي معنی د مشابهت ، پشان، په څير، په مثل ده۔ يعني يو څيز د څه خاص صفت په وجه د بل په شان ګرځول چې د لوستونکي يا اوريدونکي په زړه کښې د هغه څيز تصوير اوګرځي۔ بل دا چې هغه صفت په دواړو کښې موجود وي۔ خو دا خبره ضروري ده چې کوم څيز له تشبيه ورکولے شي او څه سره تشبيه ورکولے شي يعني مشبه او مشبه بهٖ کښې به کم نه کم يو قدر مشترک وي، احمد لکه د زمري بهادر دے۔ په دې دواړو کښې د بهادرۍ قدر مشترک دے که چرې په مشبه او مشبه بهٖ کښې ټول قدرونه مشترک وي نو بيا هغه تشبيه نه بلکه تشابه ده لکه دا سې وئيل چې احمد لکه د حامد بهادر دے۔ دې ته تشبيه نشي وئيلے د تشبيه په ضمن کښې يو بله خبره چې ډيره ضروري ده هغه دا ده چې عموماً کومو دوؤ څيزونو له يو بل سره تشبيه ورکولے شي نو په هغې کښې به يو څيز خامخا د بل نه په خصوصيت کښې ښه وي۔ ويونکے شاعر يا اديب د وينا په وخت د مبالغې نه کار اخلي او هم دا مبالغه ده چې په خبرو يا کلام کښې خوند پيدا کوي"۔(۱۲)

تشبيه ورکول هم يو ډير نازک فن دے او ډير کمال غواړي ، په دې حقله په "البيان" کتاب کښې ليک دي:

"تشبیہ وہ فن ہے جس کے ذریعے فنکار، انشاء پرداز یا خطیب مختلف چیزوں میں مشابہتیں دریافت کرتا ہے۔ گویا ایک چیز کو دوسری چیز کے مشابہ کر دیتا ہے۔ کہنے کو تو بات ختم ہو گئی لیکن یہ مقام بڑا نازک ہے اور پل صراط کی دھار کی طرح باریک۔ عامیانہ مشابہتوں کا دریافت کرنا فن کار کا کمال نہیں، اس کی نظر گہری پڑتی ہے اور اس لیے ایسی دو چیزوں میں مشابہتیں دکھاتی ہے جن کا سان گمان بھی نہیں ہوتا"۔(۱۷)

ترجمه: تشبیه هغه فن دے چې په سبب ئي فنکار، انشاء پرداز یا خطیب په مختلف څیزونو کښې مشابهتونه معلوموي، ګویا یو څیز بل څیز سره مشابه کوي. وېنا سره خو خبره ختمه شوه خو دا مقام ډېر نازك دے او د پل صراط غوندې باریك عامیانه مشابهتونه معلومول د فن کار کمال نه دے، د ده نظر ژور پرېوځي او هم داسې په دوه څیزونو کښې مشابهتونه ښائي چې د یو شان ګمان پرې نه کېږي".

تشبیه سره یو فنکار خپل مطلب ډېرپه آسانه څر ګندولے او د لوستونکي ذهن ته ئې سمدستي کوزولے شي ، دې سره کلام خوندور او مؤثر جوړېږي. د تشبیه د اهمیت په حقله په "اصول انتقادیات" کښې لیک دي:

"تشبیہ وہ چیز ہے جو شرارہ جذبات کو پرکالہ آتش بناتی، سائے کو چمکاتی اور نیست کو ہست کر دکھاتی ہے۔ شعر کا زیور، ادا کا نشتر، اختراع کا منتر، کیا بتاؤں کہ کیا کیا تشبیہ کی ذات میں مضمر ہے"۔(۱۸)

ترجمه:

تشبیه هغه څیز دے کوم چې جذباتو سروټکې بیا اور کوي، سېورې روښانه کوي او نېست هستي جوړولو سره ښائي. د شعر قالي، د ادا نشتر، د اختراع منتر، څه ووائیم چې څه څه د تشبیه په ذات کښې مضمر دي".

د رحمان بابا په شعرونو کښې د تشبیهاتو ډېرې زړه راښکونکې نمونې موجودې دي. څه مثالونه ئې په دې ډول دي:

عاشقان د سپین رخسار د تورو زلفو
څه پرواه لري د کفر د اسلام

---

ستا د مخ د آئینې له برکته زما جانه

همیشه لکه طوطي غونډې ګویان دے زما زړه

---

مشقت د نادانانو واړه پوچ دے
لکه بې بارانه ابر تش غبار شه
یا تنور دے یا دکان د اهنګرو
چه په عشق کښې تصور کړم خپل قلوب

---

د رحمان کلام په غور د بې هنرو
لکه دُر په لاس د طفل هسې خوار شه

---

سم قامت لکه الف یم په راستۍ کښې
لکه غشے زه فساد لره سم نه یم

---

هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر
لکه زلفې د خوبانو په رخسار

---

چې دې ووینم په مخ مې اوښې دورمې
لکه موم چې په آفتاب شي برابر

---

هسې زر زر مرګ په مونږه شتابي کا
لکه لَو د پاخه کښت کړه دهقان زر زر

---

سور پیزوان دې په سرو شونډو هسې زیب کا
لکه جیم په قلم کښلې کاتبانو

---

لکه مئے چې په مینا کښې تجلي کا

نور د حسن په حجاب کښې بې حجاب وي

---

هسې خوښ يم ستا د در په خاکسارۍ کښې
لکه خوښ وي سرداران په سردارۍ کښې

---

هر مارغۀ چۀ د بل غوښې خوري مردار وي
ځان حلال کړه لکه زاڼه شاهين مه شه

---

د ښې په ځير خفيف شي
چې ثقيل وۀ لکه غر

---

پخواني هم ټول د ستا په ځير سړي وو
ته هم پاسه د هغو په ځير همت کړه

---

که څوک وائي چې مار کله په کټ خيژي
زه خوړلے يم په کټ د زلفو مار

---

د رحمان بابا تشبيهات ډير نادر دي۔ هغه يو عالم فاضل ؤ او د شاعرۍ په فن پوهه ؤ۔ هغه يو بيداره او نازک مزاجه ذهن لرلو، له دې وجې د هغه تشبيهات هم نازک او شوخ دي خو بابا د خپلې فراخې تجربې ، تيزې مشاهدې له کبله په دې باب نوې نوې تجربې کړې دي۔ او بيا چې ذکر د تصوف کيږي نو خبره نوره هم نازکه شي ځکه چې تصوف ځان له تشبيهات او استعارات لري۔ په ظاهره لفظونه يو څه معنی ورکوي خو د هغې په شا مفهوم او مطلب څه بل څه پټ وي۔ دغه شان د تصوف په ميدان کښې زلفو، شونډو، مخ، خال او اننګو سره ګڼ مطلبونه تړلي دي۔ لکه په تصوف کښې شاعر د شپې ورځې د پاره د زلفو او مخ سره تشبيه ورکوي خو اشاره څه بل طرف ته وي۔ خو بابا د تصوف دغه تشبيهات داسې راوړي دي چې کلام کښې ئې زور هم پيدا کړے دے او بيا هم پکښې دومره آساني او

خوږوالے دے چې د هر پښتون په زړه او روح اثر کوي ولې چې بابا د لفظونو د جادوګرۍ اور حکمت نه ښه خبر دے۔په دې حقله اسیر مینګل لیکي:

"د رحمان بابا ورکوټے شان دیوان د نادره تشبیهاتو نه ډک دے چې پکښې ئې په ډېر حکمت پوره ژوند راغونډ کړے دے هغهٔ د لفظونو په حرمت ډېر ښه پوهېږي۔ یوازې ټکي وړاندې وروستو نه کوي بلکه معنی ورله هم پیدا کوي څکه خو ئې وینا پخه اؤ درنه ده اؤ اولس ئې شعرونه د متلونو په توګه وړاندې کوي"۔(۱۹)

استعاره:

د استعارې لغوي معنی قرض اخستل دي او په اصطلاح کښې دې ته وائي چې هر کله یو ټکے د حقیقي معنو په ځائ په بله یا مجازي معنی کښې استعمال شي خو د حقیقي معنو او د مجازي معنو تر مینځه مشابهت وي۔

استعاره یو ډېره قدیمه اصطلاح ده، استعاره هم په کلام کښې ښکلا راولي او مثال ئې د کالو پترو دے او ځانله اهمیت لري۔د استعارے د افادیت په اړه پروفیسر سید عابد علي عابد لیکي:

"کہ عربی فارسی کے نقاد ہوں یا مغرب کے انشاپرداز، دونوں کا اس پر اتفاق ہے کہ تشبیہ اور استعارے کا منصب دقیق اور لطیف کیفیت وواردات کی ترجمانی ہے۔یہی وجہ ہے کہ خیال جتنا لطیف، دقیق، نفیس، پیچ دار اور بلند ہوتا ہے اسی نسبت سے تشبیہ اور استعارے کی ضرورت ہوتی ہے۔ بعض نقادوں نے تو یہ دعویٰ کیا ہے کہ شعر کی جان استعارہ ہے"۔(۲۰)

ترجمه: که د عربی یا فارسی نقاد وي یا د لویدیزې انشا پرداز، دواړه په دې سلا دي چې تشبیهه او استعارې منصب د دقیق او لطیف کیفیت او وارداتو ترجمانی ده۔هم دا وجه ده چې خیال څومره لطیف، دقیق، نفیس، پیچ دار او لوړ وي هم هغه نسبت سره تشبیهه او استعارې ته ضرورت وي۔ځینې نقاد خو دا ادعا کوي چې د شعر ځان استعاره ده"۔

استعاره په کلام کښې فصاحت او بلاغت پیدا کوي او د خیالاتو وضاحت په څرګنده طریقه کوي۔د دې په وجه په کلام کښې حسن، تاثیر او جوش پیدا کیږي۔

د رحمان بابا په دیوان کښې د استعارې بې شمیره مثالونه په لاسو راځي، یو څو پکښې دا دي:

په يوه ساعت ئې ساز بيا ئې ويران کا
خاورے ختې دي په لاس کښې د کلال

---

دا خو ما لره خدائے راکړه ګڼه نشته
هسې بت په بت خانه کښې د آزر

---

پس له مرګه به ئې تيغ هسې مخ روڼ وي
چې آشنا په تيغ حلال شي د آشنا

---

آئينه که جمال کړي ورځر ګنده
دا ګدا رحمٰن به شاهِ سکندر شي

---

بې خيري مې کل په خير باندې شميرلې
د زمري په خوله کښې ناست يم فراغت

---

مخ د يار شمس و قمر درې واړه يو دي
قد و سرو صنوبر درې واړه يو دي
حاجت نه لرم په شهدو په شکرو
لب د يار شهد و شکر درې واړه يو دي

---

که په غوږ کړې دا ګوهر زيبائې ستا ده
او که نه وي د ناصح غاړه ادا ده

---

د ديدن په ګدايۍ مې ننګ نه شي
درويزګر ؤم د بتانو په بازار ګډ

---

دا اوږدې وعدې چې ته کوې صنمه
کاشکې بیا مومم فرصت په دا دنیا

مجاز مرسل:

مجاز مرسل هم د علم بیان یو مهم رکن دے۔ مشتاق مجروح یوسفزے د مجاز مرسل په حقله لیکي:

" هر کله چې یو لفظ د خپلې حقیقي معنی نه علاوه په بله معنی کښې استعمال شي او په حقیقي او مجازي دواړو معنو کښې ئې د تشبیه تعلق نه وي بلکه څه داسې قرینه پکښې موجود وي چې د معنی په وجه ترینه مجازي معنی مراد اخستے شي۔ دې ته مجاز مرسل وئیلے شي۔ لکه څوک ووائي" فلانې ما سره په سخته کښې لاس وکړو" نو هر کله چې مدد د لاسو په ذریعه کیدے شي نو دلته د مجاز مرسل په طریقه مدد ته لاس وئیلے شو، د دواړو تر مینځه د تشبیه تعلق نشته"۔(۲۱)

د مجاز مرسل ګڼ شمیر طریقې دي خو څه عامې دا دي:

۱۔ جزو د کل د پاره:

په کلام کښې ځنې وخت جز د کل د پاره راوړلے شي یعنې په یو شي د هغه د جز نوم کیښودلے شي لکه د رحمان بابا په دې بیت کښې :

وړاندے سراي لره توښه تره رحمانه
څو سفر دے کړے نه دے له دې سرایه

په دې شعر کښې اولنے د سراي ټکے د عقبا او د هغه جهان او دویم دسراي لفظ د دې فاني جهان په مفهوم او معنی پکارولے شوے دے۔ سرایې یو وړوکے ځاي وي خو دنیا، جهان او عقبا لوئې ځایونه دي له دې وجې د سراي لفظ جز دے ، دلته ګران بابا جز ذکر کړے دے خو مطلب ئې ترې کل دے۔

۲۔ کل د جز د پاره:

چې کله په کلام یا شعر کښې د یو شي د یو جز د پاره د هغه ټول شي نوم واخستے شي لکه:

چا پیژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کښې
اوس مې ستا له رویه نوم رسوا په کل جهان دے

په دې بیت کښې د کل ذکر دے خو مراد ترې نه جز دے یعني "جهان" دلته کل دے خو د رحمان بابا د اوسیدو یا پیژندګلو ځائې جز دے۔

**۳۔مسبب د سبب د پاره:**

چې په کلام یا شعر کښې سبب د پاره د مسبب ذکر وشي لکه د بابا دا خوږ بیت:

اې زما د زړه آرامه راشه راشه
سروې قده ګل اندامه راشه راشه

په دې بیت کښې دې اړخ ته اشاره شوې ده چې د یار په راتلو زړه ته آرام رسي، دلته د آرام لفظ د یار په معنی راغلے دے او هم دا د یار لفظ چې د زړه د آرام سبب ګرځي بیان شوې نه دے بلکې د هغې په ځائې د مسبب یعني د آرام لفظ ذکر راغلے دے۔

**کنایه:**

کنایه په لغت کښې په پټ انداز کښې خبرې کولو ته وئیلے شي۔ دا د صراحت ضد دے یعني یو څیز نه ښکاره کول۔ او د علم بیان په اصطلاح کښې هغه کلمې ته وائي چې لازمه معنی ئې واخستے شي او که حقیقي معنی ترے وباسلے شي نو هم صحیح ده خو مراد ترې دلته حقیقي معنی نه وي۔ د کنائے ډیر قسمونه دي مثلاً قریبه کنایه، بعیده کنایه، خفي کنایه، تلویح، رمز، ایما ، اشاره او تعریض۔

کنایې سره په کلام کښې تاثیر پیدا کیږي ۔ رحمان بابا په خپل کلام کښې داسې لفظونه هم راوړي چې د هغې د ظاهري معنو نه علاوه د هغه څه نور هم مقصود وي۔ لفظونه هغه د کنایو په توګه پکار راولي۔ او په څرګنده د هغه وینا ساده ښکاري خو په حقیقت کښې د هغه خبره ډیره ډونګې او کوټلې وي۔ سید رسول رسا وائي:

> "د رحمان بابا نه صرف خیال او جذبه بلکه لکه د مقدس آسماني کتابونو په شان انداز بیان او د الفاظو استعمال هم آفاقي او الهامي دے ۔ دا په روحاني میو کښې اښخلي د قوت او تاثیر نه ډک ادبي الفاظ دي ۔ دا چې د رحمان بابا په شعر کښې په کومه دلاویزه طریقه اوتړلے شي نو دا الفاظ یو ګونه، منفرد معنوي حیثیت حاصل کړي۔ دا الفاظ په ظاهره د معمولي امروزه خیال حامل وي خو دا ساده شائسته الفاظ په باطني معنو کښې دومره غیر معمولي دي چې بنیادم دا محسوسوي چې ګني د رحمان هر شعر

د یو آفاقي مقام نه دے او د یو آفاقي مقام آواز او ترجماني او تفسیر دے"۔(۲۲)

بیا د رحمان بابا په کلام کښې زیاتره غزلې دي او په غزل کښې بابا په ډېر ښکلي والي او نزاکت سره دا کنائے رانغاړلي دي او په کثرت سره د دۀ په کلام کښې دا کنائے موجود دي ځکه چې دے د دې د اهمیت او تاثیر نه ښه خبرداره وو۔ پروفیسر سید عابد علي عابد د کنائے د اهمیت په بابله لیکي:

" *غزل گو شاعر رمز وکنایہ کی ایمائی قوت سے لفظوں میں وہ تاثیر پیدا کرنا چاہتا ہے جو موسیقی میں بولوں سے پیدا کی جاتی ہے جو صوتی رموز ہیں۔ وہ چیزوں کے نام نہیں لیتا اور نہ ہی واقعات کو مفصل بیان کرتا ہے بلکہ ان کی طرف خفیف سا اشارہ کردیتا ہے*"۔(۲۳)\

ترجمه:

" غزل گو شاعر رمز و کنایې د ایمائی قوت څخه په لفظونو کښې هغه تاثیر پېدا کول غواړي کوم چې په موسیقۍ کښې وېنا سره پېدا کېږي کوم چې صوتی رموز دي۔ هغه د څیزونو نامې نه اخلي او نه د پېښو تفیصل بیانوي بلکې هغې پلو خفیف غوندې اشاره کوي"۔

د رحمان بابا د کلام نه د کنایو یو څو مثالونه:

غفلت هیڅ مناسب نه دے د سپین ږیرو
خوب روا نه دے په وخت د صبح دم

---

هر چې کر کا د اوربشو غنم غواړي
له خاطره دې بیرون کا دغه خیال

په اولني بیت کښې سپین ږیرے ، بوډاتوب او په صبح دم خوب کول غفلت ته اشاره ده۔ دغسې په دویم بیت کښې عمل کولو ته ئې د دې متل" چې څه کرې هغه به ریبې" له لارې اشاره کړې ده۔ په دې بابله څه نور شعرونه:

که ئې مخ په زلفو پټ وي باک ئې نشته
تل په گنج باندې پرته وي اژدها

---

آشنايي مي په هوس ده خو چې بيل شوم
دواړه لاس مې په سرو مښو ارمان راغے

---

څه وشو که زه انګشت نما شوم ستا په مينه
لاترما ، ته خوښ يې قاضي و هم ملا ته

---

پوزه غوړ د غوښو شته په هر چا پورې
که د شرم پوزه غوړ غواړي باطل دي

---

لنډه دا چه د رحمان بابا ټول ديوان د بيان په ادبي فنونو رنګين دے. د هغه په هر يو بيت کښې رنګ په رنګ او ښائسته هنر ځليږي او ډير په ساده ، روانه او ګل ورينه ژبه کښې ئې د شعري هنرونو يو بې مونږ ته په ميراث کښې راپيرځو کړے دے

**Refrences**

(Figurative expressions in the poetic works of Rehaman baba)
"Hawaly "

1- Sajid Ullah Tafheemee ,doctor ,farhang istilahat Alomi adabee,Islambad,Markaz Tehqeqati farsee,Iran wo Pakistan ,1996,safha 90
2-Noor ul Hasan ,Naiyer ,molvee( Moalif) Noor ul lughat,Islambad,National book foundation,1976,safha 102
3-Syed Ahmad dihlavee(Moalif) Farhang Asafiya ,Lahore,Maktaba hasan sohail limited, kall na laree ,safha 123
4-Abdul Majeed ,( Moalif) Jamigh ul lughat,Lahore,Malik din Mohammad and sons ,kall na laree ,safha 96
5-Imam Bakhsh sehbai,Hadaiq ul balaghat ,kanpor,Manshee nool kishwar press ,1877,safha 3-4
6-Deebee pershad siher ,Maghyar ul balaghat ,laknawo,matbagh namee manshee nool kishwar ,1906 ,safha 2
7-Abid Ali Abid ,syed ul bayan ,Lahore,sangi meel publications,2003,safha 48
8-Mushtaq Majrooh yousafzai,Zerkanay ,pekhawer ,Taj kutab khana,June 1998,safha 6
9-Tasneem ul Haq Kaka. Khail ,syed,Rooh -e- Adab ,pakhto academy,pekhawer university ,Dawayum zal ,1987,safha 56
10- Iqbal Naseem khatak ,Doctor ,khoshal aw jamliyat,pakhto academy,pekhawer university,Awal zal 1987, safha 516
11- Abid Ali Abid ,prof,osuli intiqadiyat,Lahore,sangi meel publications ,2006,safha 224
12-Tasneem ul Haq Kaka khail ,Syed ,Rooh -e- Adab ,safha 12
13- Mohammad Ajan Haqpal , d Rehman baba d ashghro maqboliyut ,maqala mashmola d Rahman baba d seminar maqaly, kabal , d furhung aw Adab riyasat , d larum mayasht 1384,Safha 269
14- Hum dagha , safha 313
15- D Rehman baba kuliyat , seriza Hanif khalil , pekhawer, Danish khperendoya tolana, 2005 , Safha 22
16- Mushtaq majrooh yousafzai, Zerkany, Safha, 8-9
17- Abid Ali Abid , Prof, Albayan, Safha 88
18- Abid Ali Abid,prof, osuli intiqadiyat,Safha 217
19-Asser Mangal, d Rehaman baba pa kalam ki Tashbihat,Maqala mashmola d

Rehman baba pohana , drayum jild, pekhawer, Rehaman Baba adabee jerga, February 2005 ,Safha 165
20- Abid Ali Abid ,prof , osuli intiqadiyat,,Safha 219
21-Mushtaq Majrooh yousafzai,zerkany, Safha 40
22-Rasool Rasa,Syed, d Rehaman baba Dewan , pekhawer, university book agency,March 2009,safha 24
23-Abid Ali Abid ,Prof, osuli intiqadiyat,Safha 221